صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

# اختیارات مصطفیٰ

**29-October-2020**

هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کيدونکے

د سُنّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)



د اجتماعِ میلاد (1442ھ)، او هفته وارې اجتماع 29 اکتوبر 2020 بیان

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# اِختیاراتِ مُصطفیٰ ﷺ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

**نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ** (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې کله جُمات ته داخل شئ، او ياد مو وي نو د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي. او ضِمناً به ستاسو د پاره په جُمات کښې خوراك څښاك هُم جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

زمونږه د خوږ نبي، مَدَني تاجدار **مُحَمَّدِ** مُصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: "**بيشکه اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ يوه فرښته زما په قبر مقرره کړې ده

او هغې ته ئې د ټول مخلوق د آوازونو اوریدلو طاقت ورکړے دے، پس د قیامته پورې چې څوك په ما باندې درود شریف لوَلي نو هغه ما ته د هغه او د هغه د پلار نوم پیش کوي. وائي، فلاني بِن فلاني په تاسو صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درودِ پاك لوستلے دے." (مجمعُ الزَّوائِد ج۱۰ ص۲۵۱ حدیث۱۷۲۹۱)

جہاں کے مولا جہاں کے سرور سلام تُم پر سلام تُم پر

طبیبِ عالَم حبیبِ داوَر، سلام تُم پر سلام تُم پر

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

**مُحترمو اسلامي وروڼو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "**نِیَّةُ الْمُؤْمِنِ خَیْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ**" د مُسلمان نِیَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[1]

**مَدَني گل:** نیك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِیَّتونه زیات وي هغه همره به ثواب هُم زیات کیږي.

## د بیان اوریدلو نیتونه

❖ ښو ښو نِیَّتونو سره د شروع نه تر آخرې پورې بیان واورئ ❖ پوره تَوجُّه سره د بیان اوریدلو نِیَّت اوکړئ ❖ که قلم او ډائري لرئ نو د اَهَمو نکاتو نوټ

[1] .... معجم کبیر سهل بن سعد الساعدی...الخ، ۱۸۵/٦، حدیث ۵۹٤۲

کولو نِیَّت هُم اوکړئ-

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** اول خو مونږ له د **الله** پاک شکر ادا کول پکار دي چې هغه مونږ ته یو ځل بیا د دولسم رَبِيْعُ الْاَوَّل شریف مُقَدَّسه نُوراني شپه رانصیب کړه- نن ډیره اهمه شپه ده، دا شپه ډیره عظیم الشانه شپه ده، دا شپه د ډیرو فضائلو او برکتونو شپه ده ❖ دا هغه عظیمه شپه ده کومه شپه چې د کائنات د ټولو نه زیات د شان و شوکت والا هستئ سیِّدُ الانبیاء، حبیبِ کِبریا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره نسبت لري ❖ دا هغه عظیمه شپه ده چې د شَبِ قَدر نه هُم غوره ده (ماثبت بالسنة، ص۱۵۳)، ❖ دا هغه عظیمه شپه ده په کومه شپه چې د حضرتِ آمِنه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا د رحمتونو ډک کور نه یو داسې نُور اوځلیدلو چې ټول عالم ئې روښانه کړو او هر طرف ته نُور خور شو ❖ **دا هغه عظیمه شپه ده** چې پکښې هر طرف ته خوشحالئ خورے شوې ❖ **دا هغه عظیمه شپه ده** چې د کُفر او شِرک تِیارے پکښې ختمې شوې ❖ **دا هغه عظیمه شپه ده** په کومه شپه چې **الله** پاک په مسلمانانو باندې عظیم احسان کړے دے ❖ **دا هغه عظیمه شپه ده** په کومه شپه چې شیطان سره د خپلو ملګرو رُسوا شو ❖ **په دې عظیمه شپه** د آسمان ستورې هُم دُنیا طرف ته مائل شو ❖ **دا هغه عظیمه شپه ده** چې د

شپو سرداره ده ❖ **دا هغه عظیمه شپه ده** په کومه شپه چې د فرښتو سردار حضرت جبرائیلِ اَمِین عَلَیْہِ السَّلَام په مشرق او مغرب کښې او د خانه کعبې د پاسه جنډې اولګولې (خَصائصِ کبریٰ، ۸۲/۱ ملخصاً) ❖ **دا هغه عظیمه شپه ده** چې په دې شپه کښې د **الله** پاک د **محبوب** صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُنیا ته د تشریف راوړلو په وجه د ایران د بادشاه کِسریٰ په **محل** زلزله راغله او په هغې کښې چاودونه اوشو ❖ **دا هغه عظیمه شپه ده** چې په دې شپه د اِیران د زرو کالو نه بله آتش ګده [یعني لوئ اور] بچپله مړ شو ❖ **دا هغه عظیمه شپه ده** چې په دې کښې د **الله** پاک په حُکم د آسمانونو او جَنَّت دروازې بیرته کړې شوې ❖ **دا هغه عظیمه شپه ده** په کومه شپه چې د آسمان نه د نُور باران را وریدلے وو ❖ **دا هغه عظیمه شپه ده** په کومه شپه چې فرښتو د دواړو جهانو د سردار صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُنیا ته تشریف راوړلو باندې ډیرې ډیرې خوشحالئ کړې وې ❖ **دا هغه عظیمه شپه ده** چې په دې شپه مَکِّي مَدَني تاجدار، شهنشاهِ عرب و عَجَم، شفاعت کوونکي، د خلقو غم درد لرې کوونکي، نُور والا آقا جنابِ احمد مُجتَبیٰ **مُحَمَّدِ** مُصطَفیٰ صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې دُنیا ته تشریف راوړلو او د کُفر و شِرک ټولې تِیارې لرې شوې- مولانا حسن رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د دې بَرَکتونو والا، عظمتونو والا، رحمتونو والا مبارکې شپې نه د فیضان [یعني بَرَکتونه] حاصلولو د پاره څه ښه فرمائي:

سحابِ رحمتِ باری ہے بارہویں تاریخ — کرم کا چشمہ جاری ہے بارہویں تاریخ
ہمیں تو جان سے پیاری ہے بارہویں تاریخ — عَدُو کے دل کو کٹاری ہے بارہویں تاریخ
ہزار عید ہوں ایک ایک لَحظہ پر قُرباں — خُوشی دلوں پہ وہ طاری ہے بارہویں تاریخ
تمام ہوگئی میلادِ انبیا کی خوشی — ہمیشہ اب تِری باری ہے بارہویں تاریخ
دلوں کے میل دُھلے گُل کِھلے سُرُور ملے — عجیب چشمہ جاری ہے بارہویں تاریخ
چڑھی ہے اَوج پہ تقدیر خاکساروں کی — خُدا نے جب سے اُتاری ہے بارہویں تاریخ
خُدا کے فضل سے ایمان میں ہیں ہم پورے — کہ اپنی روح میں ساری ہے بارہویں تاریخ
ولادتِ شہِ دیں ہر خُوشی کی باعث ہے — ہزار عید سے بھاری ہے بارہویں تاریخ
ہمیشہ تُو نے غلاموں کے دل کئے ٹھنڈے — جلے جو تجھ سے وہ ناری ہے بارہویں تاریخ
حَسَن ولادتِ سرکار سے ہوا روشن — مِرے خُدا کو بھی پیاری ہے بارہویں تاریخ

(ذوقِ نعت، ص۱۲۱-۱۲۲)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه واوریدل چې دا خومره عظیمه شپه ده چې په دې کښې **نَبِيِّ رَحمت، شَفِيْعِ اُمَّت، شَهَنْشَاهِ نُبُوَّت، تاجدارِ رِسالت** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې دُنیا ته تشریف راوړے دے، راځئ چې اول د امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه عطا کړو د مرحبا یا مُصطَفیٰ په نعرو د دې نُوراني شپې استقبال کوو- که کیدے شي نو مَدَني جنډے اوچت کړئ او ښه په جوش او جذبه او مَحبَّت او عقیدت د مرحبا یا مُصطَفیٰ نعرے اولګوئ-

سرکار کی آمد مرحبا سردار کی آمد مرحبا
آمنہ کے پھول کی آمد مرحبا رسولِ مقبول کی آمدمرحبا
پیارے کی آمدمرحبا اچھے کی آمد مرحبا
سچے کی آمدمرحبا سوہنے کی آمد مرحبا
موہنے کی آمد مرحبا مُختار کی آمدمرحبا
پرنور کی آمدمرحبا سراپا نور کی آمد مرحبا

[راځئ چې اوس پښتو کښې هُم نعرے اولګوو،

د سرکار آمد مرحبا د سردار آمد مرحبا
د آمنه د دِلدار آمد مرحبا د شاندار آمد مرحبا
د خوږ نبي آمد مرحبا د ګران نبي آمد مرحبا
د ریښتوني آمد مرحبا د ښائسته آمد مرحبا
د ښکلي آمد مرحبا د مُختار آمد مرحبا
د سترګو د تور آمد مرحبا د زړه د ټکور آمد مرحبا

**مرحبا یا مصطفی مرحبا یا مصطفی مرحبا یا مصطفی مرحبا یا مصطفی**

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

خوږو او **مُحترمو اسلامي ورونړو!** نن زمونږ د بیان موضوع ده ''**اختیاراتِ**

**مُصطَفیٰ** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم" اِنْ شَآءَاللّٰه په دې کښې به مونږه ډیرې ښکلې ښکلې خبرې اورو-

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد**

د حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا نه رِوایت دے چې مونږه د دواړو جهانو د سردار مَکّي مَدَني مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې حاضر وو چې د قبیلۀ بنه سُلَیم یو کس سَمسَره ښکار کړې وه او په خپل لِستونړي کښې ئې پټه کړې وه او په هغه ځائے تیریدلو، هغه چې زمونږ ګنړه اولیدله نو تپوس ئې اوکړو چې دا خلق څوک دي؟ نو هغه ته چا اُووئیل چې دا د هغه کس مجلِس دے چې هغه ځان ته د **الله** رسول وائي- هغه چې دا واوریدل نو د خپلې سوَرلۍ نه کُوز شو او د خلقو په مینځ کښې ورتیر شو او د **الله** پاک آخري رسول **مُحَمَّدِ** عَـرَبِـي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته ئې بد رد وئیل شروع کړل- حضرت عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې د هغه دا ګُستاخي اولیدله نو عرض ئې اوکړو: **یا رَسُولَ الله** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! اجازت راکړئ چې سر ترینه کټ کړم- خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائیل: اے عُمَره! آیا تا ته نه ده معلومه چې حِلم و درګُزر [یعني نرمي او معاف کول] د نُبُوَّت د اوصافو نه دي، بیا خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه طرف ته مُتَوَجِّه شولو نو هغه اُووئیل: په لات او عُزّیٰ (بُتانو) مې دِ قَسَم وي! زه به په تاسو ایمان نه راوړم- خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ورته اُوفرمائیل: اے اَعرابي! ته چا او کومې خبرې دې خبرې ته را اُوپارولې

او مجبوره ئې کړې چې ته داسې خبرې اوکړې او زما د مجلِس عِزَّت اونکړې- اَعرابي اُووئيل: په لات او عُزّیٰ (بُتانو) مې دِ قَسَم وي! زه به په تاسو هله ايمان راوړم چې زما دا سَمسَره په تاسو ايمان راوړي- دا ئې اُووئيل او سَمسَره ئې د لِستونړي نه را اُووِيستله او د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخې ته ئې کيښودله- خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سَمسَرے ته آواز اوکړو نو هغې په ډير زيات ادب عرض اوکړو: **لَبَّيْکَ وَسَعْدَيْکَ** يعني يا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه حاضره يم او زه په دې حاضرئ باندې ډير فخر لرم- ټولو حاضرو خلقو د هغې خبره واوريدله او پرې پوهه شو- بيا ترينه خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تپوس اوکړلو: ستا معبُود څوک دے؟ هغې عرض اوکړو: زما معبُود هغه دے د چا عرش چې په آسمان کښې دے او هُم د هغه بادشاهي په زمکه هُم ده، د هغه رحمت په جَنَّت کښې دے او د هغه عذاب په جَهنَّم کښې دے- بيا ترينه خوږ مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تپوس اوکړلو: اے سَمسَرے دا اُووايه چې زه څوک يم؟ هغې په اوچت آواز کښې اُووئيل: **اَنْتَ رَسُوْلُ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، وَخَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ** يعني تاسو د ټولو جهانونو د **ربّ** رَسُول او آخري نبي ئې، **وَقَدْ خَابَ مَنْ كَذَّبَكَ** او چا چې تاسو دروغ اوګڼړلئ هغه نامُراده شو- دا منظر ئې چې اوليدلو نو هغه اَعرابي دومره متاثره شو چې فوراً ئې کلمه اُووئيله او مسلمان شو او عرض ئې اوکړو: **يارَسُولَ الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زه چې کله راغلم نو زما په نظر کښې د زمکې په سر باندې ستاسو نه زيات بل څوک ناخوښه سړے نه وو خو اوس زما دا حال دے چې تاسو زما په

نزد زما د ځان او زما د مور و پلار نه ما ته زيات ګران ئې- خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيل: د **اللّٰه** د پاره حَمْد دے چې تا ته ئې د داسې دِين هدايت درکړو چې دا به هميشه غالب اوسي او کله به نه مغلُوب کيږي- بيا خوږ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ته د **سُوْرَةُ الْفَاتِحَه** او **سُوْرَةُ الْاِخْلَاص** تعليم ورکړو نو هغه چې د قرآنِ پاک دا دوه آيتونه واوريدل نو عرض ئې اوکړو: ما غټ غټ فصيح و بَلِيغ (خواږه کلامونه) اوګړده او مختصر هر قِسم کلامونه اوريدلي دي خو قَسَم په خُدائے! ما تر نن پورې د دې نه اوچت او د دې نه بهتر کلام کله هُم نه دے اوريدلے-[1]

د آقا آمد مرحبا | د داتا آمد مرحبا
د مولیٰ آمد مرحبا | د اَولیٰ آمد مرحبا

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! اللّٰه** پاک خپل آخري نبي **مُحَمَّدِ** عَـرَبِـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د زمکې او آسمان حکومت عطا کړے دے، چنانچه څنګه چې د خوږ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حکومت په انسانانو دے هُم دغسې په پيريانو او ځناورو، په هوا کښې الوتلو والا مرغو او په ونو او کانړو هُم د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حکومت دے، د هغوئي حکومت په فرش هُم دے او په عرش هُم دے-

اَميرِ اَهلِسُنَّت په وسائل بخشش کښې څه ښکلي ليکي:

[1]... معجم اوسط، ج4، ص283، حديث:5996 مختصراً

تِری فرش پر حکومت تِری عرش پر حکومت
تُو شہنشہِ زمانہ مدنی مدینے والے
بَعطائے ربِّ حاکم تُو ہے رِزق کا بھی قاسِم
ہے تِرا سب آب و دانہ مَدنی مدینے والے[1]

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليدل چې سَمسَره (چې يو بے زبانه ځناور دے هغې) څنګه د حُضُور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سوالونو جوابونه ورکړل، د **اللّٰه** پاک د معبُود کيدلو او د حُضُور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د آخري نبي کيدلو ګواهي ئې هُم ورکړه- دا زمونږ د خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان دے چې د سرکشو پيريانو او انسانانو نه سِوا هر مخلوق هغوئي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **اللّٰه** پاک رَسُول مني- څنګه چې

حضرت جابِر بِن عبدُالله رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: مونږه د نبيانو د سردار، مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د يو سفر نه واپس راتللو کنبي د (قبيله) بَنُو نَجّار د يو باغ خوا ته اورسيدلو نو مونږ ته معلومه شوه چې په باغ کنبې يو سرکشه اوبښ دے چې هغه هيڅ څوک هُم باغ ته ننوتلو ته نه پريږدي، چې څوک داخليدل غواړي په هغه حمله کوي-

[1] ...وسائلِ بخشش، مرمم ص ۴۲۵۔

حضرت جابِر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ وائي چې خلقو نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د دې خبرې ذِکر اوکړو نو خوږ مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو او باغ ته داخل شولو او اُوښ ئې را اوبللو نو هغه خپل څټ په زمکه باندې راښکلو راښکلو کښې د هغوئي په خدمت کښې حاضر شو- بيا خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه پړے را اوغوښتلو او ور وائې چولو او مالک ته ئې حواله کړو- بيا خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خلقو طرف ته مُتَوَجِّه شولو او اُوئې فرمائيل: بے شکه په زمکه او آسمان کښي د سرکشو پيريانو او [سرکشو] انسانانو نه سِوا هر څيز دا تسليموي چې زه د **اللہ** رَسُول يم-[1]

اے عاشقانِ رَسُول! **اللہ** پاک خپل آخري نبي **مُحَمَّدِ** عَـرَبِـي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د خپلو خزانو کُنجياني [يعني چابيانې] ورکړي دي- او ټول جهانونه ئې د حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په تَصَرُّف کښې ورکړي دي چې تاسو چا ته څه غواړئ ورکړئ، چې څنګه غواړئ ورکړئ-

*اِنہیں خدا نے کیا اپنے مُلک کا مالک   اِنہیں کے قبضے میں رب کے خزانے آئے ہیں*[2]

حضرت عَلَّامه مولانا مُفتي **مُحمد امجد** علي اعظمي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: حُضُورِ اَقدَس صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **اللہ** پاک نائبِ مُطلق دے، ټول جهان د حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په اختيار کښې ورکړے شو او د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حُکم لاندې کړے شو، چې څه غواړي هغه کولے شي، چا ته

[1]...مسند امام احمد بن حنبل، ج:۳، ص:۳۱۰۔

[2]...سامانِ بخشش، ص۱۳۹۔

چې څه اوغواړي ورکولے شي او د چا نه چې څه غواړي واپس ئې اخستلے شي، په ټول جهان کښې د هغوئي حُکم بدلولو والا هيڅ څوک نشته، ټول جهان د هغوئي **محکُوم** دے او هغوئي د خپل **ربّ** **تعالیٰ** نه سِوا د هيڅ چا **محکُوم** نه دے، د ټولو انسانانو مالِک دے، څوک چې حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل مالِک نه ګڼړي هغه به د سُنَّتو د خوږوالي نه **محرومه** اوسي، ټوله زمکه د مَکِّي مَدَني مُصطَفیٰ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مِلک ده، تمام جَنَّت د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جاګِیر دے، **مَلَكُوْتُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ** (يعني د آسمانونو اور زمکې ټوله بادشاهی) د حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فرمان تر لاندې (يعني حُکم منلو والا) دي، حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د جَنَّت او دوزخ کُنجیانې [چابیانې] په لاس مبارک کښې ورکړے شوې، رِزق او خير او د هر قِسمه عطاګانې د حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دربار نه تقسيميږي، دُنيا او آخرت د حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عطا يوه حِصَّه ده.[1]

رَسُولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل **ربّ** تعالیٰ په عطا د جَنَّت مالِک دے، جَنَّت عطا کوونکے دے، چا ته چې غواړي ور عطا ئې کړي.[2] د بخاري شريف په حديث نمبر 17 کښې **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: **اِنَّمَا اَنَا قَاسِمٌ وَّاللّٰهُ يُعْطِيْ** يعني **الله** ئې ما ته عطا کوي او زه ئې تقسيموم.[3]

1... بہارِ شریعت، ۱/ ۸۱-۸۳، حصہ:۱۔ بتغیر قلیل

2... فتاویٰ رضویہ، ۱۴/ ۶۶۷.

3... بخاری، کتاب العلم، باب من یرد الله به خیرا یفقه فی الدین، ۱/ ۴۲، حدیث: ۷۱.

د مکّی آمد مرحبا — د مَدَنی آمد مرحبا
د عَرَبی آمد مرحبا — د قَرَشی آمد مرحبا
د ہاشِمی آمد مرحبا — د مُطَّلِبی آمد مرحبا

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد**

**اے عاشقانِ مِیلاد!** زمونږ د خوږ آقا مَکِّـي مَدَني مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څنګه ښکلې عطاګاني دي- د سوالګرو څولۍ څنګه ډکوي او څنګه د جَنَّت خوشخبري ورکوي، راځۍ چې په دې باره کښې یو حدیثِ پاك واورو چنانچه: حضرتِ سَیِّدُنا رَبیعه بِن **کَعْب** اسلمي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: ما به شپه د حُضُورِ اَقدس صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې تیروله، نو ما د اوداسه اوبه او د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ضرورت څیزونه (لکه مِسواك) ځان سره واخستل او د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې حاضر شوم، نو **رَحۡمَةٌ لِّلۡعٰلَمِیۡن** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائیلو: **سَلْ!** یعني اوغواړه څه غواړې؟ ما عرض اوکړو: اَسْـئَلُكَ مُرَافَقَتَكَ فِی الْجَنَّة یعني (آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) **په جَنَّت کښې ستاسو رَفاقَت (یعني ګاونډ) غواړم.** (لکه داسې عرض چې کوي)

تجھ سے تجھی کو مانگ لوں تو سب کچھ مل جائے
سو سُوالوں سے یہی ایک سُوال اچھا ہے

(د رحمت دریاب نور په جوش کښې راغے او) اوئې فرمائیل: "اَوَ غَیْرَ ذٰلِكَ یعني نور هُم څه غواړې؟" ما عرض اوکړو: بس صرف هُم دا." □

تجھ سے تجھی کو مانگ کر مانگ لی ساری کائنات
مجھ سا کوئی گدا نہیں تجھ سا کوئی سخی نہیں

(چې حضرتِ سَيِّدُنا رَبِيعه بِن كَعْب اَسلمي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په جَنَّت كښې ګاونډ اوغوښتو او نور ئې د څه حاجت طلب كولو نه انكار اوكړو) نو سركارِ نامدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: "فَاَعِنِّيْ عَلٰى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْد" يعني په خپل نفس باندې د كثرتِ سُجُود (يعني زياتو نفلونو) په ذريعه زما مدد اوكړه. (مُسلِم ص۲۵۳ حديث۴۸۹)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## څه چې غواړې اوغواړه!

سُبْحٰنَ الله! سُبْحٰنَ الله! سُبْحٰنَ الله! دې حديثِ مبارك خو زمونږه ايمان تازه كړو. حضرتِ سَيِّدُنا شَيخ عَبدُ الحق مُحَدِّث دِهلوي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: د سركار مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بغير د څه تَقْيِيد و تَخْصِيص نه مُطلَقاً دا فرمائيل: سَلْ؟ يعني اوغواړه څه غواړې؟ دا خبره ظاهروي چې ټول مُعاملات د سرورِ كائنات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مباركو لاسو كښې دي، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې څه غواړي، چا له چې غواړي د خپل ربّ عَزَّوَجَلَّ په حُكم ئې وركوي.

رُسل اُنہیں کا تو مُژدہ سنانے آئے ہیں اُنہیں کے آنے کی خوشیاں منانے آئے ہیں
فرشتے آج جو دُھومیں مچانے آئے ہیں اُنہیں کے آنے کی شادی رچانے آئے ہیں

یہ سیدھا راستہ حق کا بتانے آئے ہیں | یہ حق کے بندوں کو حق سے ملانے آئے ہیں
یہ بھولے بچھڑوں کو رَستے پہ لانے آئے ہیں | یہ بھولے بھٹکوں کو ہادی بنانے آئے ہیں
اِنہیں خدا نے کیا اپنے مُلک کا مالک | اِنہیں کے قبضے میں رب کے خزانے آئے ہیں
جو چاہیں گے جسے چاہیں گے یہ اسے دیں گے | کریم ہیں یہ خزانے لُٹانے آئے ہیں
سُنو گے "لا" نہ زبانِ کریم سے نوری | یہ فیض و جُود کے دریا بہانے آئے ہیں[1]

سلطان کی آمد مرحبا | ذیشان کی آمد مرحبا
غیب دان کی آمد مرحبا | آقائے عطارؔ کی آمد مرحبا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

اے عاشقانِ رَسُول! آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته **الله** پاک هغه اختيارات ورکړي دي چې د هغې څه انتها نشته، **الله** پاک په قرآنِ مجيد کښې اِرشاد فرمائي: **وَ مَاۤ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُۗ وَ مَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْاۚ وَ اتَّقُوا اللّٰهَؕ اِنَّ اللّٰهَ شَدِیْدُ الْعِقَابِۘ(۷)** [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او څه چې تاسو ته رَسُول عطا کړي هغه واخلئ او د څه نه مو چې منع کړي هغې نه منع اوسئ او د **الله** نه اويَريږئ، بيشکه د **الله** عذاب سخت دے- (سورہ حشر، آیت7) يعني رسولِ کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې تاسو ته څه حُکم درکړي د هغې اِتّباع

[1]...سامانِ بخشش، ص۱۳۹۔

اوکړئ ځکه چې په هر حُکم کښې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اطاعت واجِب دے او د څه نه مو چې منع کړي د هغې نه منع اوسئ-[1]

اے عاشقانِ رَسُول! د **الله** پاک په عطا سرکارِ دوعالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دا اختيار هُم حاصل دے چې څه څيز غواړي فرض او واجب ئې کړي يا ناجائز او حرام ئې کړي او د يو عام حُکم نه چې څوک غواړي مُستثنٰی (يعني جُدا) کړي دا د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خصوصياتو کښې يو عظيم الشّان خصوصيت دے او دا لويو لويو فُقَهائے کرامو، مُفَسِّرينو، مُحَدِّثينو او مجتهدينو بيان کړي دي- امام اَهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: ائمۀ مُحَقِّقِين تصريح (يعني واضح طور) فرمائي چې اَحکامِ شريعت حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حواله کړے شوي دي، چې څه خبره غواړي واجبه ئې کړي، چې څه غواړي ناجائزه ئې کړي، کوم څيز يا کوم کس چې د څه حُکم وغيره نه غواړي مُستثنٰی (يعني جُدا) کړي-

د **الله** پاک د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خصوصي اختيار دليل د قرآن و حديث نه ثابت دے، واورئ:

## د حلال يا حرام قرار کولو اختيار

د قرآنِ کريم د ډيرو آيتونو او ډيرو حديثونو نه ثابته ده چې رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څه څيز غواړي حلال يا حرام، فرض يا واجب ئې کړي-

[1]... تفسير صراط الجنان، ج۱۰، ص۵۵-

الله تعالیٰ د خپل محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دوه صفتونه دا بیان کړي دي:

**وَ یُحِلُّ لَهُمُ الطَّیِّبٰتِ وَ یُحَرِّمُ عَلَیۡهِمُ الۡخَبٰٓئِثَ** (پاره 9، سورۂ اعراف، آیت 157)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: او پاک څیزونه به د هغوئي د پاره حلال قرار کوي او ګنده څیزونه به پرې حرام کوي۔

په حدیث مبارک کښې دي: [یعنې حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پخپله فرمائي] **اِنِّیۡ حَرَّمۡتُ کُلَّ مُسۡکِرٍ** یعنې بیشکه نشه راوړونکے هر څیز ما حرام کړے دے۔[1]

❖ د حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کوم څیز حلال قرار کول یا حرام قرار کول، دا خصوصیت صرف د یو څواحکامو د پاره نه وو بلکه د ټولو احکامو د پاره عام وو بلکه زمونږه آقا و مَولا **مُحَمَّدِ** عَرَبِي صَلَّی اللهُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته **الله** پاک تر دې پورې اختیار ورکړے وو چې تاسو څه حُکم غواړئ، د چا د پاره ئې چې غواړئ خاص ئې کړئ۔ **څنګه چې**

❖ دا شرعي اختیار هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې **د یو صحابي د پاره ئې د پینځو په ځائے دوه لمونځونه فرض کړل۔**

❖ دا شرعي اختیار حُضُور صَلَّی اللهُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې صرف د **اَبُردہ** رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د پاره ئې د شپږو میاشتې د چیلۍ قرباني جائز قرار کړه۔

---

[1]...نسائی، ص۸۲۶، حدیث:۵۶۱۴۔

❖ دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې يواځې د حضرت خُزَيمه بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ګواهي ئې د دوو قائم مقام قرار کړه-

❖ دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې په حرمِ مَکّه کښې ئې اِذخَر بوټے کټ کول حلال قرار کړو-

❖ دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې پخپله ئې ريښم حرام قرار کړو او هُم دا حُرمت ئې د حضرت زُبير بِن عوام او حضرت عبدُ الرَّحمٰن بِن عوف رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په حق کښې حلال قرار کړو-

❖ دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې د حضرت اَسماء بنتِ عُميس رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د پاره ئې د خاوند د وفات عِدَّت درې ورځې قرار کړو-

❖ دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې د قرآنِ پاک آيت ورښودل ئې حق مهر قرار کړو-

❖ دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې حضرت بَراء رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته ئې د سرو زرو د ګوتۍ اچولو اجازت عطا کړو-

❖ او دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو د حضرت سُراقه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د پاره ئې د سرو زرو کړې [بنګړي] اچول جائز قرار کړل-

❖ دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې [د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مازديګر د لمانځه د پاره ئې] پريوتلے لمر بيرته را اوخيژولو-

❖ دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې سپوږمئ ئې دوه ټکړے کړه-

❖ دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې سپوږمئ به د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اشاره اخوا او دېخوا کيدله-

❖ دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې د ګوتو مبارکو نه ئې د اوبو چينے رواني شوے-

❖ دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې د حبيب بِن يَساف کټ شوے لاس ئې بيرته اولګولو-

❖ دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې د حضرتِ عبدُالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ماته شوي پنډئ ئې جوړه کړه-

❖ دا شرعي اختيار هُم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاصل وو چې په غَزوۂ بَدر کښې ئې حضرت عُکّاشه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته لرګے ورکړو او د هغې نه تُوره جوړه شوه-

شاہِ کونین جلوہ نما ہو گیا　　رنگ عالَم کا بالکل نیا ہو گیا

ایسا اعزاز کس کو خدا نے دیا　　جیسا بالا تر امر تبہ ہو گیا
ایسی نافذ تمہاری حکومت ہوئی　　تم نے جس وقت جو کچھ کہا ہو گیا[1]

د شاهِ کون ومکان آمد مرحبا　　د رب د محبوب آمد مرحبا
د سلطانِ عَرب آمد مرحبا　　د رسولِ عَجَم و عَرَب آمد مرحبا

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد**

# د زمکې د خزانو مالِک

**خوېږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** تاجدارِ رِسالَت، شهنشاهِ نُبُوَّت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د خپل **ربّ** په بارګاه کښې هغه کمال حاصل دے چې د دوئي نه مخکښې یو نبي ته هُم حاصل نه وو- **الله** پاک د زمکو د خزانو کُنجیانې [یعني چابیانې] ور عطا کړي دي څنګه چې

د حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو هُرَیره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوایت دے چې سرکارِ دوعالَم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: زه اُوده ووم چې د زمکې ټولې خزانے راوړے شوې او زما په دواړو لاسو کښې کیښودے شوې-[2]

---

[1]... قبالۂ بخشش، ص ۴۴۔

[2]... بخاری، کتاب الاعتصام، ج ۴، ص ۵۴، دار طوق النجاۃ، صحیح مسلم کتاب المساجد، ج ۱، ص ۲۷۳، داراحیاء

کنجی تمہیں دی اپنے خزانوں کی خدا نے — محبوب کیا مالک و مختار بنایا
کونین بنائے گئے سرکار کی خاطر — کونین کی خاطر تمہیں سرکار بنایا[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د لاسونو مبارکو بَرَکت

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! الله** پاک چې کله يو بنده ته څه نعمت ورکوي نو هغه ته د هغې د استعمال اختيار هُم ورکوي، لکه مونږ ته ئې چې سترګې راکړي دي نو مونږ ته ئې اختيار هُم راکړے دے چې کله غواړو پټې ئې کړو او چې کله غواړو اوئې غړوو- چنانچه

**الله** پاک چې کله خپل **محبوب** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ټول نعمتونه ورکړل نو په هر څيز کښې د خيرِ کثير سره سره ئې د زمکې د ټولو خزانو کُنجياني هُم ورکړې او دا اختيار ئې هُم ورکړو چې چا ته غواړئ د دُنيا دولت ورکړئ غني ئې کړئ او چا ته چې غواړئ د آخرت نعمتونه ورکړئ او د **الله** ولِي ئې کړئ- که غواړئ نو په خپل بَرَکت سره ورله يو مُوټے څيز ډير کړئ- څنګه چې

حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس بن مالِك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: زما آقا **مُحَمَّدِ** مُصطَفىٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کله حضرت زَينَب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره نکاح اوکړله نو زما مور اُمِّ سُلَيم ما ته اُوفرمائيل: آيا مونږه د خوږ آقا **مُحَمَّدِ** مُصطَفىٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ

[1]...ذوقِ نعت ص ۴۷

وَسَلَّم په خدمت کښې څه نذرانه اُو نه لیږو؟ ما عرض اوکړو: جي بالکل! داسې ضرور اوکړئ- نو زما مور کجورې، غوړي او پنیر واخستل او حلوه ئې پخه کړه، بیا ئې هغه په یو لوښي کښې واچوله او اوئې فرمائي: اے اَنَس! دا لوښے زما د آقا، رسولِ خُدا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دربار ته یوسه او عرض اوکړه چې یارَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! دا زما مور رالیږلي ده، هغې ستاسو په خدمت کښې سلام پیش کړے دے او عرض ئې کړے دے چې دا معمولي شان تُحفه زمونږ له طرفه قبوله کړئ- [حضرت اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ] فرمائي: زه د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې حاضر شوم او څه مې چې والِده فرمائیلي وو هُم هغسې عرض مې اوکړو، نو حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: دا کیږده- بیا ئې اُوفرمائیل: لاړ شه او فلانکے فلانکے را اُوغواړه او د دې نه علاوه چې څوک هُم تا سره په لاره کښې میلاو شي هغوئي ته هُم دعوت ورکړه- زه اُووتلم او د کوم کوم کس چې هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نوم اخستے وو، هغوئي ته مې دعوت ورکړو او څوک چې را ته په لاره کښې میلاویدل هغوئي ته مې هُم دعوت ورکولو- چې کله کور ته بیرته راغلم نو څه ګورم چې کور د صحابهٔ کرامو نه ډک دے- دلته د حضرت انس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه تپوس اوکړے شو چې ستاسو د ټولو شمیر څومره وو؟ هغوئي اُوفرمائیل: درې سوه (300)- فرمائي چې بیا ما اولیدل چې سرکارِ دوعالَم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل لاس مبارک په هغه حلوه کیښودلو او څه چې الله پاک اوغوښتل هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه اُولوستل- بیا خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لس لس کسان راغوښتل شروع کړل- هغوئي به د هغه

لوښي نه خوړله او دوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ورته فرمائيل چې د **الله** نوم اخلئ او هر کس دِ د خپلې مخې نه خوري-

فرمائي چې هغه ټولو ځان ښه موړ کړو- يوه ډله به وتله نو بله به را داخله شوه، تر دې چې ټولو اوخوړله نو ماته ئې اُوفرمائيل: اے اَنَس! لوښے اوچت کړه، ما اوچت کړو، زه نه پوهيږم چې حلوه هغه وخت زياته وه چې کله ما هغه کيښودې وه او که هغه وخت چې کله ما اوچته کړه-[1]

کر دیا اپنے خزانوں کا خدا نے مالک　　بے طلب جس کو جو چاہیں عطا کرتے ہیں

میں تیری دَین کے قرباں کہ تیرے منگتا　　تجھ سے جو چاہتے ہیں مانگ لیا کرتے ہیں[2]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** دا هُم هغه انس بِن مالِک رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دے چې کله خپلې والده اُمّ سُليم رَضِیَ اللهُ عَنْهَا دربار نبوي کښې حاضر کړے وو او عرض ئې کړے وو چې: يا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا زما ځوئ ستاسو خادِم دے- تاسو صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ده د پاره دُعا اوکړئ- چې دا ئې واوريدل نو د **الله** پاک حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا اوکړه: يا **الله**! د ده په مال کښې

---

1... بخاری، ح۵۱۶۳، ص۱۳۲۳، دار المعرفه، مشکاة المصابیح، کتاب احوال القیامة، ح۵۹۱۳، ج۴، ص۳۹۱، دار الکتب العلمیه، بیروت

2... قبالۂ بخشش، ص186

بَرَکت عطا کړي، د ده مال زيات کړي، د ده اولاد زيات کړي او څه چې تا اَنَـس ته عطا کړي دي په هغې کښې بَرَکت ورکړې-[1]

دا دُعا داسې قبوله شوه چې په عامو باغونو کښې به په کال کښې يو ځل ميوه کيدله خو د حضرت اَنَـس بن مالِك رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ په باغونو کښې به په کال کښې دوه ځله ميوه کيدله، په اولاد کښې ئې داسې بَرَکت اوشو چې يو سل اته وِيشت (128) ځامن او دوه لونړه ئې پيدا شوې، او د لـمسو شمير خو ئې هډو معلوم نه دے او **الله** پاک يو کم سل (99) کاله عمر ورکړو- دا ټول بَرَکتونه د **الله** پاک د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دعا په وجه ورکړے شُو-[2]

نہ ہے تم سانہ کوئی ہو گا آگے | نہ اے آقا کوئی تم سا ہوا ہے
تری مرضی رضائے حق ہے مولیٰ | رضائے حق تری مرضی شہا ہے[3]

د سرکار آمد مرحبا | د سردار آمد مرحبا
د آقا آمد مرحبا | د داتا آمد مرحبا

**صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد**

---

[1]... مشکوۃ، ص۵۷۵۔

[2]... مشکوۃ، ص۵۷۵۔

[3]... سامانِ بخشش، ص۲۱۴

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** شهَنشاهِ ختمِ نُبُوَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له **الله** پاک یو جُدا شان ورکړے دے، چنانچه

# په کجورو کښي دومره بَرَکت

حضرتِ سیِّدُنا اَبُو هُرَیره رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي: په یوه غزوه کښې اسلامي لښکر سره د خوراك د پاره هیڅ هم پاتې نه شو. د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ خوږ رَسُول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته اوفرمائيل: تا سره څه شته دے؟ ما عرض اوکړو، په **توښه دان** کښې لږې شان کجورې شته دے. اوئې فرمائيل: راوړه. ما حاضرې کړې او هغه ټولې یو وِیشت (21) وے. سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هغې باندې خپل **لاس مُبارك** کیښودو او دُعا ئې اوکړه بیا ئې اوفرمائيل: **لس کسان** را اوبله! ما را اوبلل، هغوئي راغلل او ښه په مړه ئې اوخوړلې او لاړل. بیا ئې **د لسو کسانو** رابللو حُکم اوفرمائيلو، هغوئي هم اوخوړلې او لاړل. دغسې لس لس کسان راتلل او په مړه به ئې خوړلې او تلل به، تر دې چې ټول لښکر اوخوړلې او څه چې باقي پاتې شوې د هغې په باره کښې ئې اوفرمائيل: اے ابوهُريره! **دا په خپل توښه دان کښې اوساته او چې کله غواړې لاس پکښې دننه کوه او د دې نه ئې را اوباسه خو توښه دان مه نسکوروه!** حضرتِ سیِّدُنا اَبُو هُرَیره رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي: ما د سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ظاهري ژوند او بیا د حضرتِ سیِّدُنا ابوبکر صِدِّيق او د حضرتِ سیِّدُنا عمر فاروقِ اعظم او د حضرتِ سیِّدُنا عُثمانِ غني عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان د خِلافت د زمانے پورې د هم هغه کجورو نه خوړلې او خرچ کولې تخميناً (یعني اندازاً) پنځوس وَسقه

خو مې فِیْ سبیلِ الله ورکړي دي او دوه سوه وَسقه نه زیاتې ما خوړلي دي.
چې کله حضرتِ سیِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ شهید شو نو هغه **توښه دان**
زما د کور نه غلا شو.

*کس سے ممکن ہے صفت حضرت رَسُولُ اللّٰہ کی　　جب کہ خالق خود کرے مِدحت رَسُولُ اللّٰہ کی*

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** یو وَسق شپیته صاع او یو صاع 70 تولے
(یعني درې سیره شپږ چیټاکۍ) وي. په دې حِساب باندې د هغه یو وِیشت
کجورو نه د زر منه نه زیاتې کجورې اوخوړے شوې. دا ټول د اللّٰه
عَزَّوَجَلَّ د کرم لوئي شان دے چې هغه خپل خوږ حبیب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ
وَسَلَّم ته بیشمیره اختیارات او عظِیمُ الشَّانه مُعجِزات ورکړي دي. یقیناً د
دواړو جهانو د سردار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارك شان خو ډیر لوئي دے.

## یخني ئې په ګرمۍ کښې بدله کړه

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د خوږ مَدَني مُصطَفیٰ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم
حکومت په هر څیز وو تر دې چې یخني او ګرمي هُم د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ
وَسَلَّم تابِع وو، چې هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به یخنۍ ته حُکم اوکړو نو هغه به
په ګرمۍ کښې بدله شوه، څنګه چې

حضرتِ سَیِّدُنا بِلال حبشي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما په یوه یخه شپه د سحر
اذان اوکړو نو څوک لـمانځه له رانغلل، ما بیا اذان اوکړو- بیا څوک رانغلل،
نو خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم را نه تپوس اوکړو: اے بِلال! څه معامله ده؟ ما

عرض اوکړو: زما مور ا وپلار دِ په تاسو قربان وي، يخنۍ هغوئي په مَشَقَّت کښې اچولي دي- خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دعا اوکړه: یا **اللّٰه** د دوئي نه يخني ختمه کړې- حضرت بِلال رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي چې ما د دې دُعا نه پس اوليدل چې خلقو ځان ته ببوزے [پکے] وهلو-[1]

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږ به جَشنِ وِلادَت ولے نه کوو چې هُم دا خو هغه کريم آقا دے چې د خپل **ربّ** محبوب او د کائنات د تخلِيق باعث دے-

حضرتِ سَیِّدُنا عبدُاللّٰه اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فرمائي: **اللّٰه** پاک فرمائي: **وَعِزَّتِیْ وَجَلَالِیْ لَوْلَاکَ مَا خَلَقْتُ الْجَنَّةَ لَوْلَاکَ مَا خَلَقْتُ الدُّنْيَا** يعني زما دِ په خپل عِزَّت و جلال قَسَم وي! اے محبوبه! که ته نه وے نو ما به جَنَّت نه پيدا کولے، که ته نه وے نو ما به دُنيا نه پيدا کولے-[2]

هغه هستي زمونږه خوږ آقا مَکّي مَدَني مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے د چا د راتلو خوشخبرياني به چې انبيائے کرامو عَلَیْهِمُ السَّلَام ورکولې نو بيا به مونږه هُم د خوږ مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتلو خوشحالۍ ولے نه کوو او ولے به د مرحبا نعرے نه لګوو-

آمدِ مصطفیٰ مرحبا مرحبا　　اَحمدِ مُجتبیٰ مرحبا مرحبا
یارسولِ خدا مرحبا مرحبا　　جان تم پر فدا مرحبا مرحبا

---

[1]... دلائل النبوۃ، ج۶، ص ۲۲۴، دارالکتب العلمیہ

[2]... فردوس الاخبار، ۲/ ۴۵۸، حدیث: ۸۰۹۵

آئے پیارے نبی ہر طرف تھی خوشی　　چار سُو شور تھا مرحبا مرحبا

د سيِّد آمد مرحبا　　د جيِّد آمد مرحبا

د طيِّب آمد مرحبا　　د طاہر آمد مرحبا

د حاضِر آمد مرحبا　　د ناظِر آمد مرحبا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ګرمۍ او يخنۍ نه ئې بے نيازه کړلو

حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى شيرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما د پاره دُعا اوکړله: يا **الله!** دې د يخنۍ او ګرمۍ نه بے نيازه کړې، فرمائي: د هغه ورځې نه پس زما نه کله ګرمي شوي ده او نه کله يخني- هغوئي به په سخته ګرمۍ کښې پيړه قبا اغوستله او په سخته يخنۍ کښې به ئې دوه نرۍ کپړے واغوستلې-[1]

## د زرو کالو د عبادت ثواب

اے **عاشقانِ رَسُول!** په دولس رَبِيْعُ الْاَوَّل روژه اونيسۍ چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وِلادت شريف په ورځ روژه نيول د **ربّ** کريم د نعمت شُکر دے او په دې کښې ډير زيات اجر و ثواب دے- زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هر ګُل په ورځ روژه نيوله او دغسې به ئې خپل يَومِ وِلادت مناوولو، څنګه چې حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو قَتاده رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې د حضور

[1]... سیرتِ حلبیہ، غزوہ خیبر، ج۳، ص۵۳، دار الکتب العلمیہ

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښي د کُل د ورځې د روژے تپوس اوکړے شو نو اِرشاد ئې اُوفرمائيل: په هُم دې ورځ زما وِلادت [يعني پيدائش] شوے وو او په هُم دې ورځ په ما وحي نازله شوي وه،

په دې فرمان عاليشان کښي د داسې ورځو د روژو د **مُسْتَحَب** کيدلو طرف ته اشاره ده په کومو ورځو کښې چې د **الله** پاک نعمتونه نازل شوي وي، په دې اُمَّت باندې چې د **الله** پاک کوم د ټولو نه لوئي نعمت نازل شوے دے هغه د حضرت **مُحَمَّدِ** مُصطَفیٰ احمدِ **مُجتبیٰ** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وِلادت [يعني پيدائش] دے ځکه د دې لوئي نعمت د نازليدلو په ورځ روژه نيول ډيره ښه خبره ده و لِـهذا په دې مياشت کښې ډيرې روژے نيول پکار دي-

په جواهِر غَيبي کښې دي چې د دولسم رَبِيعُ الْاَوَّل په ورځ روژه نيولو والا ته د زرو (1000) کالو د عبادت ثواب ميلاويږي، د دې نه علاوه د 16،5 او 26 رَبِيعُ الْاَوَّل د روژے نيولو هُم ډير ثواب دے-[1]

اے **عاشقانِ رَسُول!** کوشش اوکړئ چې د 12 رَبِيعُ الْاَوَّل روژه اونيسئ او خپل خوږ خوږ آقا مَکِّـي مَدَني مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته ئې اِيصالِ ثواب کړئ او دغسې خپل خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د خپل **مَحبَّت** اِظهار اوکړئ-

---

[1]...جواہر غیبی، ص۶۱۷۔

# د ټیلي تهون ترغیب

**خوېږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه** دعوتِ اسلامي په ټوله دُنیا کښې د **دعوتِ اسلامي** د 108 نه زیات شُعبه جات قائم دي، په دې شُعبه جاتو کښې **مَدرَسةُ الْمَدینه** او **جامِعَةُ الْمدِینه** هُم شامل دي، چې په دې کښې د علمِ دین او د قرآنِ مجید د حِفظ و ناظِره **فِیۡ سَبِیۡلِ الله** تعلیم ورکولے کیږي- په مُلک او بیرونِ مُلک کښې 851 (اته سوه او یو پنځوس) **جامِعَاتُ الْمدِینه** او 4201 (څلور زره، دوه سوه او یو) **مَدارِسُ الْمَدینه** کښې تقریباً 258947 (دوه لاکه اته پنځوس زره نهه سوه او ووه څلویښت) طَلَبه و طالِبات دیني تعلیم حاصلولو او د قرآنِ کریم په حفظ و ناظره کښې مشغول دي، صرف د دې دوو شُعبه جاتو سالانه اخراجات په کروړونو کښې دي-

اِنْ شَآءَاللّٰه 15 نومبر 2020، 28 رَبِیْعُ الْاَوَّل 1442 هجري د اتوار په ورځ به د ورځې 2:00 بجو نه واخله بله ورځ سحر 5:00 بجے پورې د ټیلي تهون (یعني د چنده جمع کولو د مُهم) سلسله وي، د پاکستاني کرنسۍ مطابق به یو یُونټ 10 زره روپۍ وي، د ملک او بیرونِ ملک **مَدارِسُ الْمَدینه** او **جامِعَاتُ الْمدِینه** د قیام و انتظام او جُمله اخراجاتو د پاره ډیر ډیر تعان اوکړئ-

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قبر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قبر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

1 ... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصاً

حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿3﴾د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿4﴾د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰہِ

حضرت اَحمَد صاوِی رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

1...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرْضٰی لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په مينځ كښې كښينولو، په دې صَحابَهٔ كرام رَضِیَ اللہُ عَنْہُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتے مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

1...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

2...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[1] راځۍ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ الۡحَلِیۡمُ الۡکَرِیۡمُ، سُبۡحٰنَ اللّٰہِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبۡعِ وَرَبِّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِیۡم

(د خُدائے حَليم وکريم نه سِوا هيڅ څوك د عِبادت لائِق نشته، الله پاک دے چې د ووه واړو آسمانونو او د عرشِ عظِيم پروردګار دے)

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځۍ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

1...مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

2...تاريخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵